

د پالیسی لنډیز

# په ختیځ ګاونډ کې ټول ارام دي؟

## د تحول په حال افغانستان سره، د ایران مخ پر بدلیدونکي اړیکي

انډریو واټکېنز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

له افغانستانه د امریکايي ځواکونو وتل، د افغانستان د ثبات او امنیت او په سیمه کې د نړیوالې ټولنې د ښکېلتیا په تړاو د بې ساري ناډاډمنتوب او ابهام لامل شوی دی. د ځواکونو تر وتلو وروسته په یوه سناریو کې، په کابل، تهران او اروپايي پلازمینو کې کوم شرایط د امنیتي پرمختیا او همکاریو لپاره وړاندوینه شوې ده؟ په افغانستان د ایران تمه، موقعیت او د فشار اهرم څه دي؟ په دریو برخو کې درې اړخیزې همکارۍ شونې ده او ګډې موخې په کومه برخه کې ترلاسه کېدای شي؟.

## ایران و افغانستان: یوه زمینه

افغانستان د ایران لـه ترټولـو مهمـو ګاونډیانـو څخـه ګڼـل کېږي؛ دغـه اهمیـت نـه یـوازې د اوږدو ګـډو پولـو او بډایـه فرهنګـي، تاریخـي او ژبنـي اړیکـو له املـه، بلکې د جیوپولتیـک او اقتصـادي تبادلـې لـه املـه هـم ده[1]. پـه ایـران کـې تر اسـلامي انقلاب وروسـته پـر ۱۹۷۹ ز. کال کـې، د لویدیـځ په پرتله، د افغانسـتان په تړاو د ایـران کړنلاره تـر ډېره کچـه محافظـه کارانه ده. لا هـم، ان پر افغانسـتان د شـوروي یرغـل پرمهال، له دغـه هېـواد سره د ایـران اړیکـې، لـه متحـده ایالاتـو سره د دغـه هېـواد لـه دښـمنیو ډکو اړیکـو تـر سـیوري لانـدې ده. پـر ۱۹۹۸ ز. کال کې د افغانسـتان په شـمال مزارشریف ښـار کـې د دغـه هېـواد د لسـو ډیپلوماتـو تـر وژل کېدو وروسـته، تهـران د هغـه بحران کچـه راټیټـه کـړه، چې لـه طالبانو د جګـړې تر پولې رسـېدلی وه. تر هغه وروسـته، ایران پـه افغانسـتان کـې د ایـران له پوځـي مداخلې څخه پـر ۲۰۰۱ ز. کال کې ملاتـړ وکړ. په همـدې حـال، تـر هغه وروسـته کلونـو کې، له ایـران سره د واشـنګتن پټـې لانجې، هغه څـه ګـډوډ او مختـل کړه، چـې سـتراتیژیک (بیا تنظیـم) نومـول کېده[2].

ایـران د تېـرو دوو لسـیزو پـه بهیـر کـې د افغانسـتان پـه تـړاو سـره، عمـل پالـه او څـو اړخیـزه سـتراتیژي، چـې تر ډېره متناقضـه وه[3]، تعقیب کـړې ده. د مفسرینو پـه وینا، دغه خطرناکـه پالیسي «سـتراتیژیکه سـاتنه»، په داسـې حال کـې په کابل کې د سـیاسي ثبات ملاتـړ تـه شـاملېږي، چـې لـه طالبانـو سره هم خپلـې اړیکـې تـه پراختیـا ورکـوي، ان د هغـوی جنګیـالي مسـلح کـوي، ترڅـو د متحده ایالاتـو د بلواه ضـد فعالیتونـه کمزوري کـړي. ایـران پـه وروسـتیو کـې د افغانسـتان د سـولې په تـړاو پـه خپلـو څرګندونو سره، د کابـل لـه حاکمیـت څخـه دفاع پیل کړې ده: داسـې ښـکاري، چې د اشـتي ښـکاره او پـټ تکـر لـه لارې، د تهـران موقعیت هغه څـه ته په پـام سره، چې کېـدای شي د متحده ایالاتـو د ناهیـلي کولـو لپـاره هڅـې تـر ټولو لـوړې کچې تـه ورسـوي، تغییر کـوي[4]. د امریـکا د ځواکونـو د پلان شـوي شـاتګ په غبرګون کـې، ایران کېدای شي د افغانسـتان پـه تـړاو لـه هیلو ډکه سـتراتیژي تعقیب کـړي. په کابـل کې د ریښـه لرلو ترڅنګ، ایران کولـی شي پـه هممهالـه توګـه لـه څـو بېلابېلـو افغـان لوبغاړو سره د خپـل نـرم قدرت څخـه ګټـه واخلـي او ان کولـی شي، له سـیمه ییزو وسـله والـو څخه ملاتړ وکـړي او په بالقـوه توګـه د هېـواد مخ پـر لړزان سـیاسي تعـادل له منځـه یوسي.

## په افغانستان کې د ایران بېلابېل اهرمونه

ایـران لـه ۲۰۰۱ز. کال راهیسـې د افغانسـتان د بېلابېلـو ذي ګټـو لـورو ترمنځ څـو تنو چـې د دولـت سـتراتیژیکې څانګـې او امنیتـي ادارو واک په خپل لاس کـې درلود، خپل نفـوذ سـاتلی او ان ورتـه پراختیـا یې ورکړې ده. پر افغانسـتان د شـوروي یرغـل پرمهال، ایـران د شـیعه مجاهدینـو لـه تنظیمونو څخـه ملاتـړ کاوه، چې هـدف یې له افغانسـتانه د شـوروي ځواکونـو ایسـتل و. پـه دغـه دوره کې د ایـران ونډه، په پاکسـتان کې د سـني مېشـتو مجاهدینـو تبعیـدي دولت چې د دغـه هېواد د دښـمنانو: کوربه هېواد، سـعودي عربسـتان او متحـده ایالاتـو لـه ملاتړ څخـه برخمن و، متعـادل کړ. د ۱۹۹۰ لسـیزې په دوره کـې د کورنیـو جګـړو پرمهـال، ایـران د ربـاني لـه دولت څخـه ملاتړ وکـړ، چې په لومـړۍ درجـه کـې د قومي تاجکانو تـر واک لاندې و. پـر ۱۹۹٦ ز. کال د رباني دولت تـر ړنګېـدو او د طالبانـو لـه دښـمن رژیـم سره تـر مخامختیـا وروسـته، ایـران د طالبانو ضـد یـو ایتـلاف (چـې تـر ډېره ورتـه د شـمال اتحـاد ویـل کېـده)[5] د جوړېـدو چـارې

[1] له ناڅرګندتیا څخه تر ستراتیژۍ پورې: په سیمه او افغانستان کې د راتلونکي ګټونکي سناریو لپاره امکانات څه دي؟ دا په افغانستان کې د فریدریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده چې د افغانستان ګاونډیانو لپاره د احتمالي سناریوګانو، د پالیسۍ سمون او د اروپا د بهرنی سیاست جوړونکو تر منځ د جامع تګلارې اړتیا باندې بحث وشي. د پالیسۍ لنډیز د انډریو واټکینز او ډاکټر تیمور شارون لخوا د لیکل شوې پالیسۍ یوه برخه ده چې د متحده ایالاتو د وتلو اغیزې او د افغانستان د سولې د خبرو اترو موجودو ستراتیژیکو ګټو او په افغانستان کی دننه او بهر د کلیدي شریکانو ننګونو په اړه بحث کوي. د دې پالیسۍ لنډیز بشپړ مطلب کولاې شی په لاندی پته تر لاسه کړئ. https://afghanistan.fes.de/publications

[2] د سپمتبر، تر ۱۱ بریدونو وروسته، د ایران او امریکا ترمنځ اړیکې مخ په ښه کېدو وې، ایران د ۲۰۰۱ز. کال د بن په کنفرانس کې رغنده ونډه لرله او د طالبانو پر وړاندې د امریکايي ځواکونو له جګړې څخه یې ملاتړ کاوه.

[3] وګورئ بروس کوپکه، (۲۰۱۳) «د افغانستان په تړاو د ایران پالیسي: د ستراتیژیک عمل پالنې تکامل»، د استکهلم د نړیوالې سولې د څېړنو انستیوت، سپتمبر، ۲۰۱۳.

[4] مشم بهراوش، (۲۰۱۹)، «ایران په افغانستان څه غواړي؟» د فبروري ۴، ۲۰۱۹ز. کال.

[5] د ۱۹۹۸ په اګست کې کله چې طالبانو، په شمال کې ستراتیژیک ښار مزارشریف ونیو، نو د ایران د قونسلګري اته تنه ایران ډیپلوماتان او یو تن خبریال ووژل.

تسهیل کړي. تر ۲۰۰۱ز. کال وروسته، تهران د متحده ایالاتو د ګټې د تضعیف او د افغانستان په سیاست کې د خپل نفوذ د ساتلو او د خپل سیمه ییزو ګواښونو د حداقل رسولو په موخه، له طالبانو سره خپلې اړیکې ټینګې کړي. ایران په پټه د طالبانو له عناصرو سره په ځانګړي توګه د افغانستان په لویدیځ کې مرسته کړې ده[٦].
د ملامحمدعمر ځایناستی ملااخترمحمد منصور، د ۲۰۱۶ ز. کال په مې کې هغه مهال په بلوچستان کې د ایران پولې ته څېرمه د یو بې پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو، چې د ایران له سفر څخه راستون شوی و. په تېرو دریو کلونو کې تهران په تولیزه توګه له طالبانو سره خپل تماسونه منلي او ان په تهران کې د خبراوترو لپاره د طالبانو کوربه توب کړی دی؛ چې وروستی بېلګه یې د ۲۰۲۱ ز. کال په جنوري کې وه[٧]. په همدې حال، ایراني چارواکي استدلال کوي، چې د دوی دغه سیاست د اسلامي دولت څخه د ګواښونو زېږنده او د افغان سولې پروسې سره د مرستې په موخه دی[٨].
ایران په افغانستان کې د پام وړ نرم قدرت اعمالوي. دغه هېواد له ۲۰۰۱ز. کال راهیسې تر نیم میلیارد ډالرو زیاتې پیسې د افغانستان د بیارغونې لپاره ژمنه کړې او د ۲۰۲۰ز. کال د نومبر د جینوا په کنفرانس کې ګډون کړی دی. ایراني چارواکي باوري دي، چې دغه هېواد کولی شي زیاتې مرستې وکړي، خو د متحده ایالاتو تحریمونه د دغو سخاوتمندانو مرستو پر لاره خنډ ګرځېدلی دی. ایران د ۲۰۱۷ – ۲۰۱۸ کلونو په بهیر کې له پاکستان څخه په وړاندې کېدو سره، د افغانستان تر ټولو ستر سوداګریز شریک شو او له تحریمونو سره سره، د دو میلیارد ډالرو په اندازه یې افغانستان ته د توکو صادرات درلود (د افغانستان د مصرفي بازار ۲۲ سلنه ونډه)[٩]. ایران د خپل اقتصادي ستراتیژیک نفوذ د ځواکمنتیا په موخه، د افغانستان په لویدیځ کې په یو شمېر بنسټیزو زیربنایي او ترانزیتي پروژو کې پانګونه کړې ده، چې یوه بېلګه یې د خواف – هرات د وسپنې پټلۍ لاره ده، چې په دې وروستیو کې چارې یې بشپړه شوې دي. همدارنګه د چابهار بندر، هم د یادونې وړ ده، چې چټکه سوداګریزه لاره او د سیمه اتصال او مرکزي اسیا هېوادونو بازار ته د ایران د لاسرسي امکان چمتو کوي[١٠].
تهران، د افغان ثبت شویو کډوالو څخه په دوامداره توګه د خپل بهرني سیاست د فشار د یو اهرم په توګه هم د افغانستان دولت او د متحده ایالاتو په وړاندې ګټه اخیستې دی[١١]. د شمېرنو له مخې، له ۲۰۱۴ ز. کال تر ۲۰۲۰ز. کال پورې، د ۵،۳ میلیون په شاخوا افغان کډوالو په ایران کې ژوند کاوه ـ چې له دې جملې یوازې ۹۵۰۰۰۰ کسان یې ثبت شوي کډوال و او ۵.۲ میلیونه هغه افغان کارګر کډوال و، چې کوم مدرک یې نه درلودل[١٢]. زیاتره ثبت شوي افغان کډوال په دغه هېواد کې د ویم او دریم نسل اوسیدونکي دي، چې تر یوه بریده روغتیا، زده کړو او کاري فرصتونو ته لاسرسي لري. د ۲۰۱۹ ز. کال په مې کې د ایران د بهرنیو چارو وزارت مرستیال خبرداری ورکړ، که متحده ایالات نور تحریمونه پر ایران وضع کړي[١٣]، نو

> **د خپل ختیځ کې ګاونډي سره د تدبیر پر لوري د ایران مخینه: په همدې حال، د دغه هېواد بهرنی سیاست په پرېکنده توګه وده کړې او د امریکا تر وتلو وروسته افغانستان، کولی شي تر حد زیات د قدرت له مکره ډکه تشه رامنځته کړي.**

ایران به له خپلې خاورې څخه د افغان کډوالو د ایستلو موضوع تر څېړنې لاندې ونیسي. په پایله کې، په دغه هېواد کې د ایران د نفوذ بل عامل رادبره شوي چې به ژوره توګه د زیاترو افغانانو د اندېښنې لامل ګرځېدلی دی. له ۲۰۱۵ز. کال راهیسې ایران، افغان شیعه کډوال په سوریه کې له داعش سره د جنګېدو په موخه په ملیشه یي ډلو کې جذب کړي او دغه افغان ځوانانو سره ژمنه کړې، چې په ایران کې د قانوني مېشت کېدو زمینه ورته برابروي[١٤]. دغه تشکیلات چې اوسمهال د فاطمیونو کنډک په نامه نومول کېږي، په وروستیو کې د ایران د بهرنیو چارو له خوا د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره هم وړاندیز شو. د ایران دغه وړاندیز، زیاتره هغه افغانان نور هم اندېښمن کړل، چې د خپل امنیتي چاپېریال د دغه ډول ترتیب د اغېزو په اړه یې لرل. په افغانستان کې د اوضاع د خرابېدو په صورت کې، دا لا څرګنده نه ده، چې دغه جنګیالي ځواکمن کېږي او کنه؟ که پیاوړي کېږي، څرنګه او د کومې موخې لپاره. له خپل ختیځ ګاونډي سره د ایران مخینه، تر ډېره محافظه کاری ته میلان لري. په همدې حال، بهرني سیاست په پرېکنده توګه وده کړې او د امریکا تر وتلو وروسته افغانستان کېدای شي له وسوسو ډک د قدرت خلا د رامنځته کېدو لامل شي.

### د افغانستان د سولې په تړاو د ایران تمه او درېځ

ایران، د افغانستان د سولې خبرې له نژدې څارې او هڅه کوي، پر سیمه ییز وضعیت خپله اغېزه پراخه کړي. ایران، پر دغې پروسې د اغېزې په موخه، هر څه چې په توان کې لري، ترسره کړي دي. له دې سره سره، چې په دغه پروسه کې ایران د متحده ایالاتو له خوا څنګ ته شوی، خو تهران د طالبانو د کوټې او دوحې له

---

٦ یوچي درازن، «په افغانستان کې له اسلامي دولت سره د مبارزې په موخه له طالبانو سره د ایران انحصاري تیم»، فارن پالیسي، د مي ۲۶، .
[٧] ایازګل، (۲۰۰۱)، «د افغانستان د هغې سولې پروسې په تړاو، چې د امریکا له خوا رهبري کېږي، د نظر د تبادلې لپاره، ایران د طالبانو کوربه»، د امریکا غږ، د جنوري ۲۶، ۲۰۲۱.
٨ له جواد ظریف سره د طلوع نیوز د مرکې متن، د ۲۰۲۰ کال د دسمبر ۲۱مه.
٩ عمده صادراتي توکي، برېښنا، ساختماني توکي او خواړه دي. وګورئ «پر ۲۰۱۷-۲۰۱۸ د ایران ستر سوداګریز شریک»، مالي ترېبیون، د اپریل ۸ ۲۰۱۸ز. کال۲۰۱۸: (-https://financialtribune.com/articles/economy-domestic
economy/84309/iran-biggest-trade-partner-of-afghanistan-in-2017-18).
١٠ ایران، هند او افغانستان د ۲۰۱٦ ز. کال په مي کې د چابهار درې اړخیزې هوکړې متن نهایی کړ. له دې لارې افغانستان په سویلي اسیا کې خپلو شریکانو سره سوداګري کولی شي. ویل کېږي، په دغه بندر کې د ۵۰۰ شرکتونو له جملې څخه ۱٦۵ شرکته یې د افغانانو دي.
١١ سیروان کاجو او مهدي جدي نیا، (۲۰۱۹)، « پر ایران، د افغان کډوالو د ایستلو په تړاو ګواښ په اړه نیوکه وشوه» امریکا غږ، د مي ۱۵، ۲۰۱۹.
[١٢] باید په پام کې ولرئ، چې د کوید ۱۹ د خپرېدو له امله د کډوالو کارګرو او نورو کډوالو په شمېر کې د پام وړ بدلون راغلی دی. -https://www.unhcr.org/ir/refugees-in-iran/ https://www.al-monitor.com/pulse/originals/2019/05/iran
nuclear-deal-ultimatum-europe-
[١٣] https://www.al-monitor.com/pulse/originals/۲۰۱۹/۰۵/iran-nuclear-deal-ultimatum-europe-afghan-refugees-drugs.html
١٤ توبیاس اشنایدر، (۲۰۱۸)، د فاطمیون کنډک: افغان جنګیالي د سوریې په کورني جګړه کې، د منځني ختیځ انستیتوت، اکتوبر، ۲۰۱۸.

مشرانو سره اړیکه ټینګه کړې او د طالبانو د پلاوو کوربه وو. خو د سیمې د نورو هېوادونو پرخلاف، داسې نه ښکاري، چې د افغانستان په تړاو د ایران کړنلاره د خبرو په پایله کې (په کابل کې راتلونکې مسلط قدرت) وي. تهران، په دوامداره توګه، له خپل ختیځ ګاونډي سره په اړیکو کې نوښت او ژوره عمل پالنه ښودلې ده.
د ایران د سیاست د هدایت لپاره په افغانستان کې، ښایي: دا وي، چې ایا متحده ایالات له افغانستانه خپلو وتلو ته دوام ورکوي او له سیمې خپل پوځ په بشپړ ډول وباسي.

ایران، د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ د هوکړې له وتلو منتقدینو څخه دی او د افغان دولت او نورو اصلي سیمه ییزو شریکانو په غیاب کې، دغه هوکړه لیک نیمګړی بللی دی. که څه هم تهران په دوحه کې له بین الافغاني خبرو څخه هرکلی کړی، خو بیا هم د متحده ایالاتو کړنلاره او د سولې بهیر په تړاو د طالبانو ژمنتیا یې تر پوښتنې لاندې راوستی دی، چې د تاوتریخوالي کچې په راټیټولو کې د دغې ډلې نه بریالیتوب څخه څرګنده ده. ایران، همدا راز ټینګار کوي، چې متحده ایالات څرنګه د افغان دولت له لوري د ژمنتیاوو په ورکولو سره، د افغانستان پر حاکمیت سترګې پټوي. سربېره پر دې، ایران د سولې راتلونکو خبرو کې د برخه اخیستو په تړاو خپله لېوالتیا څرګنده کړې ده. تهران د بیا لپاره ټینګار کړی، چې د سولې یوه هراړخیزه پروسه، دې ته اړتیا لري، چې د افغانستان ټولنې له ټولو اقشارو سره خبرې وشي او داسې یوه پروسه وي، چې د افغانانو تر مالکیت لاندې او په کابل کې وي.

ایران ادعا کوي، چې د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ هوکړه، هم په دننه او هم په بهر کې د قدرت توازن ته زیان رسولی دی او دغه چاره د دې لامل کېږي، چې طالبان له یو پیاوړي دریځ څخه خبرې وکړي، چې د تهران په وینا دغه چاره کولی شي، په افغانستان کې د سولې فرصت له ګواښ سره مخ کړي. په یوه سیمه ییزه حیاتي چاره کې، د خواشیني د څرګندولو سربېره، تهران په دې برخه کې د منفي اغېزو متحمل شوی هم دی. له دغې ډلې سره د ایران د اړیکو مخینې ته په پام سره، د طالبانو د پیاوړتیا په اړه د تهران خبرداری تر یوه بریده هسې پروپاګند دی. په واقعیت کې، د دغه پروسې د پرمختګ او داسې شرایطو ته د متحده ایالاتو د رسېدو په صورت کې، چې متحده ایالات د خپل وتلو لپاره کافي بولي، ایران به زیاتې لاسته راوړنې ولري. پر دې بنسټ، داسې ښکاري، چې د افغانستان د سولې په تړاو د ایران دریځ دا تاییدوي، چې په هماغه کچه د متحده ایالاتو د سیاست له مانورونو فرصت غواړی مخالف دی.

له ۲۰۱۹ز. کال راهیسې د ایران په تړاو د ولسمشر غني تقریب، له ښه هرکلي سره مخ شوی دی - ښایي دغه چاره د کابل او واشنګټن ترمنځ د اختلافاتو منعکسوونکی وي - او په پایله کې تهران د سولې په تړاو د کابل له اجنډا سره سم خپل اصلي پیغامونه همغږي کړي دي. د دې ترڅنګ په ستراتیژیکو دولتي پستونو کې د ایران د لېوالتیا وړ کسانو ګومارل، د کابل یوه بله هڅه ده. دا لا څرګنده نه ده، چې دغه چاره متحده ایالاتو د سیګنال د لېږلو لپاره دی، یا د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا لپاره یوه جدي هڅه ده.

تهران، له ۲۰۰۳ ز. کال راهیسې له افغانستانه د ناټو ځواکونو د وتلو لپاره یو مهالویش غوښتونکی دی په همدې حال، ایرانیان اوس هم له «مسوولانه شاتګ یا وتلو» څخه دفاع کوي، ترڅو د موجود سیاسي جوړښت له ړنګېدو څخه مخنیوی وشي او داړ ترلاسه شي، چې طالبان په بشپړ ډول واک په خپل لاس کې نه اخلي. ایران همدا راز په دې باور دی، چې اوربند باید وړاندې ته د حرکت لپاره له وړاندې یو شرط وي، هغه دریځ چې کابل هم ورته لابینګ کوي. ایراني چارواکي همدا راز د اوسني دولت پر ځای د موقت حکومت د ځایناستي کولو په تړاو خبرداري ورکوي او څرګندوي، چې دغه چاره کولی شي، د قانوني او سیاسي خلا لامل شي او له دې امله د بې نظمۍ او تاوتریخوالي لامل شي. تهران، همدا راز د تېرو لسیزو لاسته راوړنو لکه د ښځو، قومي او مذهبي لږکیو حقونو او د ملګرو ملتونو لپاره د بنسټیزې او فعالې ونډې لپاره ډېرې زیاتې هڅې کړې دي.

له دې ټولو سره سره، تهران د افغانستان د سولې پر بهیر او د جګړو پر ډینامیک د اغېز شیندلو لپاره، بالقوه ناګټورو لارو چارو ته مخه کړې دی (د بېلګې په توګه د فاطمیون په تړاو د جنوري په میاشت کې نظریې او په همدې میاشت کې په تهران کې د طالبانو د یو پلاوي کوربه توب). دا چارې له دې سره هممهاله وه، چې د امریکا نوی دولت په دې اړه سلامشورې کولې، چې ایا د دوحې هوکړه لیک ته ژمن دي او کنه؟.

دغه ټول موارد، د تهران په مضمون او مفهوم سره، د متحده ایالاتو له سیاستونو سره سمون لري. نور اصلي ګټې هم په افغانستان کې د ایران د عملي ښکېلتیا لارښوونه کړې ده. له هغه وروسته چې د اسلامي دولت یا داعش ګواښونه زیات شول، له طالبانو سره د ایران په اړیکو کې هم زیاتوالی راغلی یعنې له ۱۵/۲۰۱۴ کال راهیسې. که څه هم، ایران تر دې مخکې هم له دغې ډلې پټو اړیکو ته پراختیا ورکوله. د ایران دغه اندېښنه، چې له افغانستانه د ځواکونو بیرنی وتل، کېدای شي د تروریستي فعالیتونو یوه نوې څپه رامنځته کړي، چې مهارول یې ستونزمن دي، رښتینی ده. خو له متحده ایالاتو سره د ایران تقابل، د سولې او د افغانستان د راتلونکي په تړاو د دغه هېواد په متناقضو دریځونو کې ریښه لري.

## ایران او اروپايي ټولنه: ګډو موخو ته رسېدل

افغانستان کېدای شي، د ایران لپاره د اروپايي ټولنې په ګډون له نړیوالې ټولنې سره د خو همپاله پراخو ګټو په تړاو یو سیاسي اضافي پلیټ فورم چمتو کړي. د ګډ کاري جامع پلان ۲۰۱۵ (JCPoA) له راهیسې، چې په معمول ډول د ایران د

اټومي هوکړې تر سرلیک لاندې پېژندل کېږي، د ایران او اروپايي قدرتونو –بریتانیا، فرانسې، جرمني او په ټولیزه توګه اروپايي ټولنې ترمنځ له مخکې یوه کاري اړیکه شتون لرلې ده، چې کولی شي د جوبایډن نوی دولت له خوا بیا نوی شي. اروپايي ټولنې مخکې ویلي که امریکا پر ایران تحریمونه لغو کړي، له JCPoA کنوانسیون او د هغه په تعقیب د انرژۍ په برخه کې د سوداګریزو همکاریو له کنوانسیون څخه به ملاتړ وکړي. د امریکا په وتلو په دې ورانډوینې سره، چې د جوبایډن په دوره کې تحریمونه به تخفیف او یا لغو شي، اروپايي ټولنه، ایران او افغانستان، د اصلي ګټو او موخو لپاره په خپلو اړیکو د نوي تعریف لپاره، غوره فرصت لري. دغه موارد کولی شي، له تروریزم سره مبارزې، اقتصادي او سوداګریز ادغام، کډوالی او د نشه یي توکو د قاچاق مدیریت ته شامل شي.

اروپايي ټولنه، د سولې تر هوکړه لیک وروسته، د فرهنګي، ژبني، اقتصادي او سیاسي اهرم ته په پام سره، کولی شي د مجدد ادغام او د بیارغونې هڅو په برخه کې، د ایران له بشپړ ظرفیت څخه ګټه واخلي. ایران کولی شي، د یو شمېر سیاسي اسپویلرونو په تعدیل او د هغو کسانو له لارې، چې په طالبانو کې نفوذ او کولی شي د تاوتریخوالي کچې په راټیټولو کې ونډه ولري، رغنده کردار ادا کړي. د متحده ایالاتو تحریمونو ته په پام سره، چې نړیوالو بازارونو ته د ایران لاسرسی محدود کړی، افغانستان د ایران د یو ستر سوداګریز شریک په توګه رادمخه شوی دی. اروپايي ټولنه او ایران کولی شي، د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو او سوداګریز ادغام په برخه کې سره نږدې همکاري ولري. د ایران د زیربناوو کلیدي پروژې د دغې موخې لپاره تر ټولو زیاته مناسبه ده، خو د مرکزي اسیا هېوادونو په تړاو هراړخیزې کرنلارې ته اړتیا شته چې اروپايي ټولنه کولی شي، د دغې چارې د تسهیل په برخه کې، مخکښ رول ولوبوي. ایتالیا، د هغې وسپنې لارې د څلورم پړاو د بشپړولو په درشل کې دی، چې د خواف – هرات وسپنې لارې، ایران د افغانستان له لارې مرکزي اسیا سره نښلول کېږي. ایران هیله لري، چې اروپايي او مرکزي اسیا هېوادونو ته تر ۲۰۲۵ ز. کال د خپلو ګازو د ۸۰ میلیارد متر مکعب په اندازه کلني صادراتو، افغانستان خپل محور وګرځوي او په ورته وخت کې، افغانستان ته د نانفتي صادراتو د زیاتوالي لپاره پلان جوړونه ولري. تر جګړې وروسته په یوه سناریو کې، تهران کولی شي، د روزنې، مسلکي او تخنیکي پرمختیا، روغتیا په برخو کې پر یوه پانګه وال بدل شي.

د امنیت تر اجنډا ها خوا، ایران په یو شمېر نړیوالو او سیمه ییزو ناستو همکاري کړې او ښودلې، چې د سیمه ییزو ننګونو د حل په برخه کې، درې اړخیزو او څو اړخیزو لاروچارو ته لومړیتوب ورکوي. د بېلګې په توګه، ایران د سیمې هېوادونو ترمنځ د سیاسي ډیالوګ او همکاریو د پیاوړتیا په موخه، له ۲۰۱۱ ز. کال راهیسې د استانبول د اسیا زړه پروسې مهم غړی دی. دغه هېواد، د کډوالو په تړاو د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنري له خوا د حل لارو په ستراتیژۍ کې، چې د افغان کډوالو بېرته ستنېدنه تسهیلوي، له پاکستان سره نږدې همکاري لري. له دغه مهاله راهیسې ایران، د افغانستان او پاکستان په اړه د تماس نړیوالې ډلې غړی.

ایران او اروپايي ټولنه دواړه د نشه یي توکو د قاچاق له ترټولو سترو مصرفوونکو څخه دي. اروپايي ټولنه کولی شي، د افغانستان په پولو کې، د نشه یي توکو د ناقانونه سوداګرۍ د مدیریت او مخنیوی لپاره، د پولو د کنټرول او معلوماتو شریکولو په موخه د یو سیمه ییز میکانیزم د تسهیل شونتیا، وڅېړي. دواړه لوري کولی شي، د پولو دواړو خواوو ټولنو کې پانګونه وکړي، او خلک د کوکنارو د بدیل کرنیز توکي کرلو ته وهڅوي.


افغان مهاجرین په ۲۰۲۰ز. کال د هرات د اسلام قلعه بندر له لارې له ایران څخه راستنېږي. فریډریش ایبرټ بنسټ / محمد عارف کریم)

## وړاندیزونه

- د سولې رواني پروسې د بریالیتوب لپاره، د یو مرستندوی په توګه د اروپایي ټولنې سیمه ییز رسمي کړنلاره کې د پام وړ پانګونې ته اړتیا شته. دغه سیمه ییز چوکاټ کولی شي له ایران د مستقیم تعامل په برخه کې یو غوره فرصت وي. له هغه ځایه، چې ایران احساس کوي، چې د متحده ایالاتو پخوانی دولت کمرنګه فعالیت درلود او نوی دولت لپاره وخت ته اړتیا شته، ترڅو له ایران سره اړیکې تودې کړي، نو اروپایي ټولنه په دې برخه کې کولی شي، دغه خلا ډکه کړي.

- د سولې پروسې د ماتېدو او له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په صورت کې، ښايي د سیمه ییزو لوبغاړو ترمنځ د سیالي کچه زیاته شي. هغه ایراني ضد ایتلاف، چې د ټرامپ پرمهال له سعودي عربستان، د خلیج سیمه هیوادونو او اسراییلو سره رامنځته شو، که د بایډن له خوا دغه لاره تعقیب شي، نو کولی شي د سیمې ډینامیک وځنډوي او لا پیچلي کړي. اروپایي ټولنه باید له خپل قدرت او مثبتو اړیکو څخه په ځانګړې له متحده ایالاتو، پاکستان او هند سره یې چې لري، ګټه واخلي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې د ایران مشروع ګټو ته پاملرنه کېږي.

- اروپايي ټولنې د افغانستان او ایران ترمنځ د اوږدمهالو اختلافاتو د بېلګې په توګه د هریرود اوبو پر تاریخي اختلاف د حل په اړه، له دواړو لورو سره بحث وکړي. په دې برخه کې د اروپایي ټولنې ونډه کېدای شي نامستقیمه وي، خو دغه ټولنه کولی شي چې د افغانستان او ایران ترمنځ د هریرود او هلمند سیند د اوبو په اړه اختلاف اواري ته ملګري ملتونه وهڅوي.

- بروکسل باید د افغانستان له لارې د سویلي او مرکزي اسیا ترمنځ بین المنطقه یی اړیکو ټینګښت په برخه کې مرسته وکړي او په بالقوه توګه له ایران څخه بلنه وکړي، چې د تعرفو د ازادولو او ترانزیتي هوکړه لیکونو کې، د ګاونډیو هېوادونو د هڅونې په موخه برخه واخلي.

- ایران، باید له افغان کډوالو څخه د فشار په توګه له کار اخیستو څخه ډډه وکړي. دغه ډول پالیسي، کېدای شي په افغانستان کې د ایران په تړاو په عامه اذهانو کې د منفي احساساتو د رامنځته کېدو لامل شي. اروپايي ټولنه له ایران او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنري په ګډون د ملګرو ملتونو له نورو سازمانونو سره، د افغان کډوالو د بېرته ستنېدو په برخه کې د یوې حل لارې د موندلو په برخه کې همکاري وکړي.

- ایران همدا راز افغانستان ته د فاطمیون کنډک د جنګیالیو له هر راز لېږلو څخه ډډه وکړي. د ملیشو او وسله والو ډلو تاریخچه چې د بهرنیو تر ملاتړ وي، اوسمهال ډېر زیات له منفي اغېزو ډکه ده.

### د لیکوالانو په اړه

داکټر تېمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکینز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیلة مندۍ څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.

**د پښتی د انځورونو په اړه:**

افغان صرافان د هرات په صرافي مارکېټ کې د بهرني اسعارو د معاملې لپاره راټول شوي دي.

انځور: رویترز / محمد شعیب /

چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریدریش ایبرت بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de

د فریدریش ایبرت بنسټ له لیکلې مخکینۍ اجازې پرته، د فریدریش ایبرت بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظریې، د فریدریش ایبرت بنسټ د لیدلورو منعکسوونکي نه دي.